AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰۲۶/۰۸/۳۱

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(دېرشمه برخه)



(جنرال مشرف چي خپل ویښتان یې په رنګ یا نکریزو سره کړي دي.)

## پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲۶)

### د جنرال مشرف سیاسي او شخصي شخصیت

جنرال مشرف د خپلو خاطرو په کتاب **(د اور پر لیکه**[1]**)** کې خپل شخصیت او خپله کورنۍ راپېژني، هغه خپل نسب تر پیغمبر (ع) پورې رسوي او ځانونه (سیدان) بولي. مشرف لیکي چې نیکونه یې له سعودي عربستان څخه هند ته راغلي دي.

د مشرف د پورته ادعا پر وړاندې چې کله موږ د هغه او د نوموړي کورنۍ کړنو، څېرو او خویونو ته ګورو داسي ښکاري چې د هغه نسب په عربو پورې اړه نه لري، د دوی کره وړه دا ښيي چې مشرف د هندوانو په ځلورمه او ټیټه طبقه **(شودرا)** پورې (چې وروسته مسلمان شوي دي) تړاو لري. پښتانه د هندوانو دغې ټیټې پوړۍ شودرا ته اوس هم **(سوډر)** وايي او دا اصطلاح د پښتنو په منځ کې، ناوړه

[1]: د جنرال مشرف د خاطرو کتاب:(د اور پر لیکه) کې چې د خپل ژوند په اوږدو کې له کومو پېښو سره مخ شوی له یوې اندازې غورو سره یې خپلې خاطرې لیکلي دي، هغه پرته له دې چې وشرمیږي، د یو انګرېز یا اروپایي کس په څېر په ډېرې بېباکۍ سره هغه څه لیکلي چې په لوستلو یې د ختیځ ډېری خلک شرمیږي لکه: له پردیو جلکیو سره د هغه عاشقانه اړیکې. (۴۱-۴۲- ۶۱ مخونه)؛ د یو جنرال او ولسمشر په توګه پر سټېج باندې د سندرو ویل، د طبلو وهل او انګرېزي (غربي) ګډا کول؛ د سپو ساتل او له سپو سره ژوند کول، په تېره بیا د خپل مور او پلار د ګډا او سندرو لیکل او ستایل... چې په لاندې پاڼو کې به یې په تفصیل سره ولولئ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او ناپوهه کس ته ویل کیږي، د هندوانو د سوډرو طبقې کړنې په مشرف او د هغه په کورنی کې له ورایه ښکاري چې مشرف په ډېر ویاړ سره په خپل کتاب کې هم لیکي دي.
مشرف چې ځان د عربو پر توکم پورې تړلی بولي، د هغه په خوی او بوی کې د عربو د دین (اسلام) او کلتور کوم څرک نه لیدل کیږي، د عربو کلتور، په تېره د هغوی اسلامي ګروهه او زموږ ګروهه چې یوه ده، ټول پوهیږو چې یو مسلمان څه ډول اسلامي مکلفیتونه او ټولنیز اخلاق لري، له بده مرغه هغه ډول اسلامي اخلاق چې باید یو مسلمان یې ولري، په مشرف او د هغه په کورنی کې نه لیدل کیږي، موږ چې د دوی په خویونو کې څه وینو، تر ډېره د هندوانو د سوډرو د طبقې کړنې دي، طبیعي ده چې هر انسان د هغه د اعمالو پر بنسټ پیژندل کیږي.
لرغونو آریایانو، د شودرا څلورمې پوړۍ ته د هندویزم لوړو طبقو لکه: برهمن، کشتریا اویشیا په سپک نظر کتل، له هغوی سره یې ودونه نه کول، یو ځای نه ورسره اوسیدل، یو ځای یې ډوډۍ نه ورسره خوړله او تر ټولو ټیټې دندې یې هغوی ته ورکړې وې لکه: **موچیتوب، دوبيتوب، د توکریو جوړول، کلالي، جولاتوب، ندافي، د ناولو ویالو پاکول، ډمتوب او نورې معمولي دندې.**[2]

## د پاکستان طبله‌مار ولسمشر، جنرال مشرف (نڅا او موسیقي)



(د جنرال مشرف مور او پلار، د دوه کسیزې غربي نڅا په حال کې)

جنرال مشرف د خپلو پخوانیو سوډر توکمه پلرونو یو مسلک، ډمتوب چې لا تراوسه په کې پاتې دی، د خپل مور او پلار د نڅا، ساز غږولو او د خپلې مور د سندرو ویلو په اړه داسې لیکي:«مور مې [بېګم زرین] په ترکیه کې د پاکستان په سفارت کې د ټایپیستۍ په توګه کار کاوه، هغه تکړه ښځه وه او ډېره ښه ټایپیسته وه چې په چټک لیکلو کې یې په سفارت کې جایزه هم ترلاسه کړې وه، **شاید له دې امله وي چې هارمونیه ښه غږولی شي، ښکلې آواز یې هم درلود، زما مور او پلار موسیقي او نڅا، په ځانګړې توګه د ګډا په سالون کې، دوه کسیزه نڅا ډېره خوښوله، زما د پلار نڅا په زړه پورې وه، هغه ښکلې او ظریفه [میده، میده] نڅا کوله**، د بریتانیا د ملکې د تاج د په سرولو په مراسمو کې د نڅا سیالي پیل شوه (چې په هغه کې د سفارت ډېرو کارکوونکو ګډون کړی ؤ) وروسته له نڅا څخه اعلان وشو چې **زما مور او پلار په دوه کسیزه نڅا کې د جایزې لومړني ګټونکي دي.**[3]

د مشرف او د ده د کورنۍ په اړه پیاوړي امریکایي لیکوال **(ستیو کول)** مالومات وړاندې کوي لیکي:«**د پرویز مشرف لور د کره کتنې له یو [امریکایي] فلم جوړونکي سره واده وکړ**، زوی یې په بوستون کې د مالي شنونکي په توګه کار کاوه، [د مشرف] پلار [د هند په پرنګي اداره کې] یو بریالی ملکي

---

[2]: د ډاکټر لطیف یاد له مقالې څخه: د هندوانو د ټولنیز جوړښت څلور پوړونه.
[3]: پرویز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سیدهارون یونسی. ۲۵مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سیکولر مامور ؤ، مور یې ځان تر چادرۍ لاندې نه پټاوه، نوموړې ډېرې خبرې کوونکې او ژوندۍ ښځه وه **چې خپل کور یې د موسیقۍ د سیمفوني تالار په څېر اداره کاوه**، د کورنۍ د انځورونو البمونه یې له ډاکټرانو، تجارانو، ډیپلوماتانو او اصلاح غښتونکو ډک وو.»

ستیو کول زیاتوي:**«مشرف په خپله ټیپیکه توګه لیبرال [آزادخیاله] یادیده چې د پاکستان په سیاسي ګردود کې یې مانا دا وه چې د ویسکي [شرابو] په خوړلو یې رنګ نه سور کیده، که به یې زړه وشو نو [لویدیځه] نڅا به یې هم کوله ... .»**[4]

جنرال مشرف، له موسیقۍ، په ځانګړې ډول له غزلو او فلمي سندرو سره ډېره مینه لرله **او خپله سندرغاړی هم ؤ، تر دې چې په ۲۰۰۹ز. کال کې یې له غزل بول او صوفي هنرمند استاد حمید علي خان سره سندرې وویلې.**[5] هغه به طبلې هم وهلې، وایي چې په لندن کې د موسیقۍ د یوې ننداړې پر مهال، وروسته له هغې چې د طبلهمار د طبلې غږولو له امله خوابدی شو نو **هغه په خپله طبلو ته کیناست او د طبلو پر وهلو یې پیل وکړ.**[6]



(جنرال مشرف له جګجیت سینګ او چترا سینګ سره د طبلې وهلو په حال کې)

هغه مهال چې جنرال مشرف د یوې سپنې کودتا له لارې واک تر لاسه کړ نو په ۱۹۹۹ز. کال کې د هند مشهور سندرغاړی **(جګجیت سینګ)** پاکستان ته سفر وکړ او د پاکستان د هغه مهال پوځې واکمن، جنرال پرویز مشرف کور ته ورغی. **هلته دواړو پنجابۍ سندرې وویلې او مشرف له جګجیت سینګ سره د سندرو پر مهال طبله هم وغږوله.**[7] مشرف چې یو سندرغاړی او طبلهمار جنرال او د پاکستان ولمسشر ؤ، **«که به یې خوښه شوه نو غربي نڅا یې هم کوله.»**[8] **هغه به د نڅا په موخه په ډیسکوتیک (نڅا ځایونه) کې حاضر ؤ.**[9]

نه یوازې مشرف او د ده کورنۍ په خپله سازونه او سندرې ویلې بلکې په پاکستان کې یې د خپلې واکمنۍ پر مهال د پاکستان کلتور او فرهنګ چې تر ډېره د هندي فرهنګ پر سبک پورې تړلی دی او د هند او پاکستان ډېرې وګړې په اردو ژبه ګړیږي، مشرف د هندي ساز او آواز **(راګ)** پر ځای د یهودو د **(راک)** د موسیقۍ سبک ته ډېر پام وکړ، وجه دا وه چې مشرف په انګلستان او ترکیه کې د خپلو زده کړو پر مهال د راک موسیقۍ تر اغیز لاندې راغلی ؤ، هغه چې په ۱۹۹۰-۱۹۹۱کلونو کې له انګلستان څخه پاکستان ته راستون شو، د راک موسیقۍ یې ډېره اوریدله. هغه وو چې مشرف د

---

[4]: ستیو کول: د پیریانو جګړې. د غلام محمد زرملوال پښتو ژباړه. ۶۹۰ مخ.
[5] https://www.youtube.com/watch?v=UfVHmGyr1lA
[6]: https://www.telegraph.co.uk/news/worldnews/asia/pakistan/6023737/Pervez-Musharraf-becomes-YouTube-singing-sensation.html
[7]: https://www.bbc.com/pashto/arts-and-literature-47177562
[8]: ستیو کول: د پیریانو جګړې، د غلام محمد زرملوال، ژباړه ۶۹۰ مخ.
[9]: پرویز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سیدهارون یونسی. ۷۲مخ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خپلې واکمنۍ پر مهال «د پاکستان رسنۍ آزادې کړې او خصوصي سکتور ته يې د ټلوېزيوني مرکزونو او رسنيزو ادارو د پرانېستلو په موخه ډېر شمېر جوازونه ورکړل. د ټلوېزيوني ډرامو، فلمي صنعت، تياتر، موسيقۍ او ادبياتو فعاليتونه، په شخصي توګه د مشرف له خوا هڅول کېدل. **د هغه د سياستونو تر اغېز لاندې، په هېواد کې [د يهودو] راک موسيقۍ (Jewish Rock) ډېر مينه‌وال پيدا کړل او هره اونۍ ګڼ شمېر کنسرټونه جوړېدل.**

د ۲۰۰۱ز. کال ډسمبر په ۲۵مه نېټه، هغه مهال چې د پاکستان په کراچۍ کې د محمد علي جناح د مړيستون په انګړ کې د هغه د زوکړې ورځ لمانځل کېدله، **جنرال «مشرف د (جُنُون) راک موسيقۍ ډلي سره پر سټېج ودرېد او له هغوی سره يې ملي سندره ووېله.»**[10]

راک موسيقي له يهودو سره ژور تړاؤ لري، يهودانو د نوموړي موسيقۍ په جوړولو او پرمختګ کې بنسټيز کار کړی دی. راک موسيقي د يهودو يو ځانګړی هنري سبک دی چې يهودي دين او کلتور سره يو ځای کوي. په دغه موسيقۍ کې سربېر پر نورو ټولنيزو موضوعاتو، د تورات ځيني آيتونه، مذهبي ترانې او د اسراييلو او يهودي هويت په اړه مسايل هم ويل کېږي.

د راک موسيقۍ سبک په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰زديزو کلونو کې په امريکا او اسراييلو کې د يهودانو په زيار رامنځ ته شو او په ۱۹۷۵ز. کال کې، په اورشليم (بيت المقدس) کې د ( Diaspora Yeshiva Band) په نوم لومړنۍ يهودي [مذهبي] ډله جوړه شوه چې د حسيديک راک په نوم هم ياديده.[11] راک موسيقي له لسو ډېر ځانګړي طرزونه (سبکونه) لري او ځيني سبکونه يې څو نورې ځانګې هم لري.

## د جنرال مشرف ګروهه او تقوا

ومو لوستل چې د مشرف پلار او نيکه د يهوديلوه انګرېز استعمار نوکران پاتې شوي وو او مشرف چې له آره يې په ترکيه، پاکستان او انګلستان کې، تر ډېره د يهوديلوه، عيسوي تعليمي بنسټونو کې زده‌کړې کړي وې، دا وجه وه چې نوموړی د اسراييلي صهيونستانو تر اغېز لاندې راغلی ؤ، جنرال مشرف له يهودو سره په هره برخه کې ډېره مينه درلوده، هغه چې خپل نيکونه عرب مسلمانان بلل او ظاهراً يې ځان هم يو مسلمان باله، حقيقت دا دی چې نوموړی هسې تش په نوم مسلمان ؤ، هغه د اسلام پر ديني احکامو او فرايضو نه پوهيده، د هغه ناخبرې له اسلامي شريعت څخه تر دې کچې وه چې نوموړي د **قرآن کريم**[12] د ښوونو پر خلاف يو نامسلمان ته د مغفرت دعا کوي او په خپل کتاب کې ليکي: **«دانيل پرل دې خدای وبښي.»**[13] **(دانيل پرل)** چې يو امريکايي يهودتوکمه او د (وال ستريټ)

---

10: https://www.washingtonpost.com/wp-dyn/content/article/2007/11/18/AR2007111800948.html

11 :https://books.google.com/books?id=LSO7AAAAIAAJ&q=diaspora+yeshiva+band

12: قرآن کريم د توبې سورت: ۱۱۳- ۱۱۴، ايتونه.

13: پرويز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سيدهارون يونسی. ۳۵۸مخ.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

ژورنال خبرېال ؤ. د ۲۰۰۲ز، کال په فبروري کې په کراچي کې د القاعدې سازمان لهخوا په بې رحمۍ سره وژل شوی ؤ.[14]



(جنرال مشرف له دویم پاپ جان پال سره د سترې مه شي په کې.)

جنرال مشرف چې له اسراییلي صهیونستانو سره کومې پټې اړیکې ساتلې او څوک نه دي

پرې خبر، یوه جلا خبره ده خو د هغه تر ټولو ناوړه او بنکاره عمل هغه ؤ چې نوموړي، د ۲۰۰۵ز. کال، د سپتمبر په ۱۸مه نېټه، د امریکا په نیویارک ښار کې **د امریکا د یهودي کانګرس اړوند د نړۍ د یهودانو شورا په ملاتړ، د یهودي مشرانو یوې غونډې ته وینا وکړه.** چې د منځنی ختیځ د مشرانو لهخوا له سختو نیوکو سره مخ شو خو د یهودي مشرانو له لوري وستایل شو.[15]



(جنرال ضیاء او دویم پاپ جان پال)

سربېره پر یهودانو چې جنرال مشرف مینه او خواخوږي ورسره لرله، هغه د نړۍ د کاتولیکي عیسوي کلیسا مشرانو ته هم ډېره چاپلوسي کوله، مشرف په ۲۰۰۴ز. کال کې په واتیکان کې له دویم پاپ جان پال سره لیدنه وکړه.

پاتې دې نه وي چې له ده وړاندې جنرال ضیاء هم د عیسویانو مشر پاپ جان پال چې په ۱۹۸۱ز. کال کې کراچۍ ته راغلی ؤ په ډېرې غوړه مالۍ سره هرکلی وکړ.

## جنرال مشرف، د پاکستان سګباز ولسمشر

د سپیو ساتل په غربي نړۍ کې یو عادي کار دی، هر څوک کولی شي سپي وساتي له یو عادي کس نیولي بیا تر لوړپوړو چارواکو او ولسمشرانو پورې. چې ښه بېلګه یې د **جورج ډبلیو بوش** د سپي ساتل دي چې د خپلو خاطرو کتاب یې له خپل سپي سره په چکروهلو او **د خپل سپي د غایطه موادو په پاکولو پای ته رسولی دی.**[16]

خو په اسلامي نړۍ کې له اړتیا پرته، د سپیو ساتلو ته په سپک نظر کتل کیږي، په ځانګړي توګه که د هېواد ولسمشر او یا کوم لوړپوړی چارواکی سپي وساتي نو له سختو نیوکو او سپکاوي سره مخ کیږي او د (سګباز) په ستاینوم (لقب) یادیږي.

مشرف چې تر ډېره د غربیانو اخلاق یې هم خپل کړي وو، هغه له ماشومتوبه د غربیانو په څېر سپي ساتل خو کله چې جنرال او د پاکستان واکمن شو بیا هم له خپلې (سګبازۍ) څخه وانه وښت، هغه نه پوهیده چې په یو اسیایي هېواد (چې د اسلامي جمهوریت نوم یې هم غوره کړي دی) د ولسمشر لپاره د سپیو ساتل یو تاریخي بدنامي ده. مشرف د خپلو سپیو په اړه وایي:

---

[14]:https://www.bbc.com/pashto/columns-40959111

[15]:http://archive.arabnews.com/?page=4&section=0&article=70295&d=19&m=9&y=2005

[16]: جرج واکر بوش: خاطرات جرج بوش: لحظات تصمیم. فارسي ژباړه محمد حسین اسماعیل‌زاده. ۵۰۹مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

له سپيو سره زما مينه په ترکيه کې پيل شوه. ما د (ويسکي[17]) په نوم يو ښکلی نسواريږرنګه سپی درلود چې ډېر مې خوښېده. هغه په يوه ترافيکي پېښه کې ووژل شو خو په ما کې يې له سپيو سره تلپاتې مينه پيدا کړه. زه واړه سپي غوره ګڼم، نه هغه چې ډېر غټ وي. له دې کبله زما ملګري حيران دي، ځکه چې هغوی په دې تمه چې يو کوماندو بايد زمري ته ورته سپيو سره مينه ولري. زه فکر کوم هغه کسان چې غټ سپي ساتي، غواړي خپل ځان د يو ناپوه او زوړور انسان بڼه وښيي.[18]

هغه مهال چې جنرال مشرف له بهره راروان ؤ او نواز شريف نه غوښتل چې د هغه الوتکه د کراچۍ په هوايي ډګر کې ناسته وکړي، کله چې د مشرف پلوي پوځيانو د کراچۍ هوايي ډګر کنټرول په لاس کې واخيست نو د يو تن جنرال افتخار لهخوا مشرف ته داډ ورکړل شو چې اوس کولی شي الوتکه د کراچۍ په هوايي ډګر کې ښکته کړي، مشرف وايي «د دې لپاره چې ډاډمن شم، له نومونړي جنرال مې پوښتنه وکړه: **آيا ته کولی شې زما د سپيو نومونه ووايې؟** ځکه چې زه پوهېدم چې دا نومونه دوی پيژني نو که چېرې بل څوک وي يا يې جنرال افتخار اړ کړی وي دا کار وکړي نو زما د سپيو نومونه يې نه اخيستل او يا به يې غلط نومونه ويلي واى. هغه پرته له ځنډه ځواب راکړ:**«صاحبه، ډاټ او بډي»** د رواني فشار سره، سره د هغه د ځنډا غږ مې هم احساس کړ.[19]
دا د جنرال مشرف له سپيو سره بېساري مينه ښيي چې په داسي خطرناک حالت کې د خپل ډاډ په موخه د خپلو اولادونو او نورو خپلوانو د نومونو پوښتنه وکړي، د خپلو سپيو د نومونو پوښتنه کوي.

## پرويز مشرف يو نالايق شاګرد؛ بې ديسيپلينه افسر، ناډيپلوماتيک او ګوستاخ ولسمشر

مشرف چې د ښوونځی په دوران کې يو نالايقه او ورانکاری شاګرد ؤ، د خپلو شيطانيو له امله به ډېرې وختونه **په يوه پېښه جزايي درول کېده او د ښوونکو له لوري به يې وهل ډبول هم خوړل.**[20] هغه چې کله د پاکستان په پوځ کې په دنده وګومارل شو، يو بېانضباطه او بېديسيپلينه افسر ؤ. مشرف ليکي:**«په پوځ کې يې زه د يوه فرصتغوښتونکی، سرکښ، آزاد او جنګي افسر په توګه پيژندلم، نه د يوه جدي او مسلکي افسر په توګه. ما هېڅکله خپل ژوند ډېر جدي نه دی نيولی. د خپلې دندې په لومړيو کې د انضباطي ستونزو له امله له جدي مشکلاتو سره مخ شوی وم. که زما خراب چلند او کمزوري انضباط مو ليدلی وای، هېڅکله به مو نه وای ويلي چې زه به په راتلونکي کې دومره روښانه او ځلانده راتلونکې ولرم.»** [21]

د مشرف د ښوونځي مهال حماقتونه او د افسرۍ مهال بې انضباطی د هغه په وينه کې ګډ شوي وو چې يوه بېلګه يې له ولسمشر حامد کرزي تر منځ تونډې نيوکې وې، جنرال مشرف چې له آره يو بېادبه او ګوستاخ پوځي ؤ او په خپل مسلک کې يې يوازې د ګاډۍ د آس په څېر مخامخ ليدل کولی شول،

---

[17]: ويسکي د يو ډول غربي شرابو نوم دی چې د مشرف د سپي په څېر قهويي رنګ لري، شوني ده چې مشرف د همدغو شرابو نوم پر خپل سپي ايښی وي.
[18]: پرويز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سيدهارون يونسی. ۳۲مخ.
[19]: پرويز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سيدهارون يونسی. ۱۶۰مخ.
[20]: پرويز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سيدهارون يونسی. ۳۸مخ.
[21]: پرويز مشرف: در خط آتش، فارسی ژباړه: سيدهارون يونسی. ۵۱۸مخ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غير و لولئ

ولسمشر حامد کرزي ته يې داسې سپکې سپورې وويلې:**«کرزی د اوښ‌مرغه (شترمرغ) په څېر دی چې خپل سر په شګو کې ننه باسي نو فکر کوي چې څوک يې نه ويني.»**
ولسمشر حامد کرزی چې یو مؤدب او ډیپلمات شخصیت دی، د مشرف په غبرګون کې د همدغو خبرو په بهیر کې مشرف ته څو ځلې د ورور خطاب وکړ.
د جنرال مشرف ایمان او توره ټولو نړیوالو لیدلې ده چې د امریکایانو په یوه ټلیفون تسلیم او سلامي شوی ؤ... . دا چې مشرف یو نااهله پوځي کس ؤ، د هغه وینا له ډیپلوماسی څخه ډېره لرې وه، جنرال مشرف د خپلو خبرو پر مهال د موضوع اړوند، د بېلګو او مثالونو په ورکولو نه پوهېده، د شترمرغ اصطلاح کارولو مانا داسې ده چې شترمرغ د خپلو پښو سره نږدې ځای نه ويني خو لرې سيمه ښه ليدلی شي، د شترمرغ اصطلاح په خپله پر جنرال مشرف پورې پلې کېږي، داسې چې اسامه بن لادن چې په پاکستان کې د يوې پوځي اکاډمی سره نږدې اوسېده خو مشر نه ليده، د مشرف په وينا چې ويې ويل:**«ما په هغه ځای کې سپورټ کاوه.»**

سربېره پر پورته خصوصیاتو، مشرف بې‌باکه، ساده، جدي، پرځان ډاډمن او پر خپلو پوځیانو حاکم کس ؤ، هغه پرته له دې چې د خپلو کړنو مسؤلیت او راتلونکي غبرګونونه په پام کې ونیسي، سختې او ویجاړوونکي پرېکړې یې په اسانۍ سره کولې چې په پای کې به په هماغو ختو کې ونښت چې په خپله به يې جوړې کړې وې.

## <u>د جنرال مشرف مرګ او فاتحه</u>

جنرال مشرف چې په ۲۰۱۴ز. کال کې دوبۍ ته د ناروغۍ په پلمه له پاکستان څخه وتلی ؤ، شاوخوا ۷ کاله هلته استوګن ؤ، په پای کې د ۲۰۲۳ز. کال د فبرورۍ په ۵مه نېټه د ۷۹ کلونو په عمر د يوې ناعلاجه ناروغۍ (آميلوييدوز) له امله مړ شو، د مشرف د جنازې لمونځ په کراچۍ کې ترسره شو او د پوځي مراسمو په ترسره کولو سره د پوځ په هديره کې ښخ کړای شو.
جنرال مشرف چې د امريکایانو سرپرېکړی متحد ؤ، په دوبۍ کې په يو امريکايي روغتون کې د زړې ښځې په شان تر برستنې لاندې ومړ، **د ده د فاتحې د اخيستلو له امله د پاکستان په پارلمان کې جنجال پورته شو <u>خو په پای کې پارلمان پرېکړه وکړه چې مشرف ته دعا نه کوي.</u>**
ملا عبدالعزيز، هغه چې په چادرۍ کې د لال جومات د جګړې پر مهال تښتيدلی ؤ او د جنرال مشرف په امر يې مور، ورور او نور ډېر بې‌ګناه خلک وژل شوي وو، **د مشرف پر مړينه يې وينا وکړه، <u>هغه يې وبابښه او د مغفرت دعاګانې يې ورته وکړې!</u>** نوموړي ملا مشرف ته داسې د بښنې دعا کړې وه، لکه څرنګه چې مشرف يو وژل شوي يهودي دانيل پرل ته د مغفرت دعا کړې وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولـئ



(ناروغ جنرال مشرف د دوبۍ په روغتون کې)

***چې يې لاپې د پاکۍ کړې څه ناپاک شه***
***راشه ګوره چې څه حال لري تباه***
(خوشال بابا)

نېټه: ۱۴۰۵/۶/۹ل. ل
**نور بيا**

**د ښاغلی محمد انور اځړ نوري ليکني په دی لينک کی ولولی.**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ